داکتر محمدآجان مرزی
۲۰۱۶/۰۵/۱۰

# د هېوادونو د اقتصادي وروسته پاتې والي لاملونه

**سريزه**

اوسمهال د نړۍ زياتې سيمې يا مخ پر ودې او يا تر ټولو وروسته پاتې هېوادونه (LDC) دي. افغانستان هم د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو په ډله کې شامل دی. د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو د تعريف لپاره درې مشخصې په ګوته کولای شو: د عايداتو ټيټه کچه، د بشري قواوو کمزورتيا ( تغذيه، روغتيا، معارف او د بالغينو بې سوادي)، اقتصادي کمزورتيا (د کرهنيزو محصولاتو بې ثباته توليد، د توکو او خدمتونو د صادراتو بې ثباتي، په اقتصاد کې د صنايعو ټيټه کچه او نور). (د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو لست، ۲۰۱۵). د دې هېوادونو شمېر د ملګرو ملتونو د ارقامو له مخې اته څلوېښتو ته رسېږي چې زياته برخه يې په افريقا او نور يې په آسيا او د آستراليا پاسيفيک په سيمه کې پراته دي.

د يادونې وړ ده چې يوازې دا هېوادونه د اقتصادي وروسته پاتې له ستونزو سره مخ نه دي بلکه نور هېوادونه لکه مخ پر ودې هېوادونه او يا درشليز هېوادونه هم زياتې پرمختيايي ستونزې لري او د وګړو زياته برخه يې بېوزلې ده. په دې توګه د نړۍ د وګړو زياته برخه د بېوزلۍ او لوږې له ستونزو سره لاس او ګرېوان ده. اوس مهال د نړۍ د وګړو کابو نيمايي برخه د ورځني ژوند لپاره په ورځ کې له ۲،۵ ډالرو کم عايد لري. په نړۍ کې يو ميليارد ماشومان بېوزلي دي او د يونيسيف د ارقامو له مخې هره ورځ د بېوزلۍ له امله په نړۍ کې ۲۲۰۰۰ تنه ماشومان مري. ۷۵۰ ميليونه تنه د ښښاک لپاره پاکو اوبو ته لاسرسی نلري. هر کال د اسهال او د سږو د التهاب له امله ۱۶۵ ميليونه تنه ماشومان چه له پنځو کلونو کم عمر لري، مري. ( د نړېوالې بېوزلۍ په هکله يوولس حقيقتونه، ۲۰۱۵).

په ځانګړې توګه د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو اقتصادي توان ډېر کم دی، د خلکو د عايد کچه ټيټه ده ، توکو او خدمتونو ته غوښتنه کمه ده، اقتصاد د پرمختيايي پانګې اچونې لپاره د سپما د کمې کچې له امله مالي وسيلې نلري، بېکاري زياته ده چې دا په خپله بيا هم د کم عايد لامل ګرځي او په دې هېوادونو کې يوه اقتصادي شيطاني دايره (vicious circle) رامنځته کوي.

په دې ځای کې دا پوښتنه رامنځته کېږي چې ولې ځينې هېوادونه بډای، پرمختللي او ځينې وروسته پاتې او بېوزلي دي؟ دې پوښتنې ته د ځواب ويلو لپاره بايد د وروسته پاتې والي لاملونه په ګوته شي. زه به په خپله دې ليکنه کې زيار وباسم چې د اقتصادي وروسته پاتې والي تاريخي او اوسني علتونه په لنډه توګه روښانه کړم.

**لنډيز**

د هېوادونو د وروسته پاتې والي د لاملونو او د هغو د له منځه وړلو لپاره بېلابېلې نظريې موجودې دي، چې د وروسته پاتې والي پديدې له بېلابېلو خواوو څېړي. له دغو څخه زياتې يې په نولس سوه پنځوسمو کلونو کې طرح شوي دي. سره له دې چې اوس مهال په نړېوالو اقتصادي اړيکو او حالاتو کې د شپېتو او يا اويا کلونو د پخوا په پرتله زيات بدلون رامنځته شوی دی او يو شمېر بېوزلي هېوادونه پر دې توانيدلي دي چې په نسبي توګه پرمختګ وکړي، د نوموړو نظريو اساسي ټکي لا هم اعتبار او د کارولو وړتيا لري.

له دوېمې جګړې وروسته کله چې زيات شمېر هېوادونه د استعمار له جوغ څخه خلاص شول، د دې هېوادونو حکومتونو د خپلو اقتصادونو د بيا رغونې، پرمختګ او دوې د موخو لپاره لارې چارې لټولې. په دې هکله د ملګرو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولـئ

ملتونو سازمان او نورو نړیوالو سازمانونو هم د دې هېوادونو د پرمختګ لپاره خپلې مرستې پیل کړې. په دې اړه د زیاتو طرحو محتوا د معلول له منځه وړل و، بې له دې چې د وروسته پاتې والي لاملونه وڅېړي او د هغوی د له منځه وړلو لپاره کاري پلانونه طرحه کړي. یوه بله اشتباه د پرمختللو هېوادونو د ودې او پرمختګ کاپي کول و. په دې اړه په پرمختلونکو هېوادونو کې داسې پلانونه طرحه شول چې د هېوادونو ټولنیزو شرايطو او غوښتنو ته یې کمه پاملرنه شوې وه. په پايله کې زيات شمېر هېوادونو د اقتصادي پرمختګ لپاره ترلاسه شوې پورونه او مرستې په داسې لارو کې ولګول چې د اقتصاد د پرمختګ لپاره يې کومې ځانګړې مثبتې پايلې رامنځته نکړې او د دې هېوادونو اقتصادي ستونزې يې د پورونو د زياتېدو له امله لا نورې هم زياتې کړې. په دې ځای کې باید په دې هېوادونو کې اداري فساد هم هېر نکړو.

پرمختللو هېوادونو وروسته پاتې هېوادونو ته داسې پورونه ورکړل چې د سود کچه يې ډېره لوړه وه، د پور اخستونکو هېوادونو اقتصادي بنسټونه په پام کې ونه نيول شول او زيات وختونه د جیوستراتيژيکي او نورو سیاسي موخو پر بنسټ پورونه ورکول کېدل. ځينو هېوادونو وروسته نه يوازې د خپلو پورونو د ادا کولو توان نه درلود، بلکه آن د دې پیاوړتیا يې هم نلرله چې د پورونو سود ادا کړي.

په وروسته پاتې هېوادونو کې په ډېرو حالاتو کې له پورونو څخه د مصرفي موخو لپاره کار واخستل شو او په دې توګه په اقتصادي بنسټونو کې پانګه اچونه کمه پاتې شوله او د کار مؤلدیت وده ونکړه. دا هېوادونه هم د پورونو د غېرمؤلدي کاروني او هم د پورونو د سود د لوړې کچې له امله دې ته اړ شول چې د زړو پورونو د قسط او سود د ادا کولو لپاره نوي پورونه واخلي او په دې توګه يې د پورونو کچه ورځ په ورځ زياته شوله. د پیسو د نړیوال صندوق د ارقامو له مخې له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۵ کال پورې د پرمختلونکو هېوادونو د پور کچه له ۵۰۰ میلیاردو ډالرو څخه یوه بیلیون ډالرو ته اوچته شوه او تر ۲۰۰۰ رم کال کابو دوه میلیونه ډالره شوله. (د پیسو نړیوال صندوق، ۲۰۰۰).

په تېرو لسيزو کې د وروسته پاتې هېوادونو د خامو موادو د صادراتو په بيه کې زیات نوسانونه موجود وو او په عمومي توګه تر اوسه هم مخ پر ټيټېدو ده. له دې امله د دې هېوادونو د سوداګرۍ بیلانس په عمومي توګه کسر لري چې هېوادونه دې ته اړ باسي تر څو د مصرفي او یا پرمختیايي غوښتنو د پوره کولو لپاره له بهرنیو هېوادونه څخه پور واخلي. دا خبره به د پرمختیايي نظريو په چوکاټ کې په مفصله توګه توضيح کړم.

له بل پلوه پرمختللو هېوادونو د نړیوالې سوداګرۍ په چوکاټ کې د وروسته پاتې هېوادونو د محصولاتو په وړاندې خنډونه رامنځته کړي دي چې یوه بېلګه يې په دغو هېوادونو کې د کرهنيزو محصولاتو سبسایډي کول او په دې توګه وروسته پاتې هېوادونو ته د ارزانو محصولاتو صادرول دي. دا نن مهال د وروسته پاتې هېوادونو د کورنیو صنايعو د ودې په وړاندې یوه لويه ستونزه ده. د دې ټولو ستونزو تر څنګه د وروسته پاتې هېوادونو اقتصاد د نړیوال مالي بحران له امله هم زيات زيانمن شو او د پورونو د اداکولو وړتيا يې لا نوره هم کمه شوه. (ولې هېوادونه پور اخلي؟، ۲۰۱۵).

د پرمختیايي پلانونو په طرح کولو کې بې صبرۍ هم د دې هېوادونو د اقتصادي ودې او پرمختګ یوه ستونزه وه. دې هېوادونو غوښتل چې ډېر ژر وده وکړي او د همدې موخې لپاره يې په ډېرو حالاتو کې داسې پروژې تر لاس لاندې ونيولې چې نه اقتصادي وې او نه هم ټولنيز شرايط ورته تيار وو. دا ډول چلند همدا اوس هم په ځينو وروسته پاتې هېوادونو کې ترسترګو کېږي. هېوادونو د دا ډول پروژو د تمويل لپاره پورونه واخستل او د ملي اقتصاد ډېرې اقتصادي زېرمې يې وکارولې، بې له دې چې کومه د پام وړ اقتصادي ګټه ترلاسه کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**د وروسته پاتي والي اقتصادي نظريي**

د پادشوو او نورو اقتصادي او ټولنيزو ستونزو د رامنځته کېدو لاملونه او د هغوی د له منځه وړلو لپاره لارې چارې د اقتصادي پرمختګ په بېلابېلو نظريو کې تشريح شوي دي. زه به په خپله دغه ليکنه کې زيار وباسم چې له دغو تر ټولو د پام وړ يې په لنډه توګه وڅېړم.

**د مدرنيزه کولو نظريي**

د مدرنيزه کولو نظريي د ملي اقتصاد اوږدمهاله وده څېړي. د دې نظريو له مخې د ملي اقتصاد د وروسته پاتي والي لاملونه په ځانګړې توګه دوديزه کرهنه، بېسوادي، د کار د وېش ټيټه کچه او د اقتصادي بنسټونو کمه وده دي. د پرمختګ لپاره بايد د وروسته پاتي والي ياد شوي عوامل له منځه يووړل شي او د اقتصادي پرمختګ د عملي کولو لپاره د پرمختللو هېوادونو له اقتصاد څخه د بېلګې په توګه کار واخستل شي. د پرمختللو او وروسته پاتي هېوادونو ملي اقتصادونه له يوه او بل سره تړلي دي او د توليد د مدرنيزه کولو لپاره بايد وروسته پاتي هېوادونو ته د پانګوني مرستې وشي او د تکنالوژۍ په انتقالولو کې آسانتياوې ورته برابرې شي.

د مدرنيزه کولو د نظريو له ټولو نامتو استازی امريکايي اقتصاد پوه روستوف دی. روستوف د ملي اقتصاد د ودې پروسه د الوتني د پرواز له بېلابېلو پړاوونو سره په مقايسه « د اقتصاد د ودې پړاوونو» په نامه خپل اثر کې تشريح کړې ده. دا د الوتني لپاره د شرايطو برابرولو، د الوتني د پيل، د ارتفاع نيوني او په يوه معينه ارتفاع کې د الوتني د دوام پړاوونه دي. دا نظريه د ودې د پړاوونو د نظريي په نامه هم يادېږي. د دې نظريي له مخې بايد ټولنه د مدرنيزه کېدو په لار کې له پنځو پړاوونو څخه تېره شي:

- <u>دوديزه ټولنه</u> – د ودې په دې پړاو کې ملي اقتصاد زياته وده نده کړې، توليد دوديزه بڼه لري او يوازې د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره ترسره کېږي، په اقتصاد کې د غېرمؤلدو سکتورونو ونډه زياته ده او مالي وسيلې له ټولو د مخې د خدمتونو په سکتورکې او د دفاعي او مذهبي موخو لپاره کارول کېږي. خلک تر ډېره حده پر خرافاتو عقيده لري، د خپل ژوند د حالاتو پر بڼه کولو باور نه لري او هر څه د قضا او قسمت پر لاس ږدي. په دا شان ټولنو کې سوداګرۍ هم تر ډېره حده بارتري حالت لري چې په معاملو کې توکي له توکو سره تبادله کېږي.
- <u>د اقتصادي ودې پړاو</u> - په دې پړاو کې په اصطلاح د اقتصاد د الوتني د پيل لپاره شرايط برابرېږي. دا شرايط د دودونو او خرافاتو د اغېزو کمېدل، په توليد کې د مدرني ټکنالوژۍ کارونه، د سيماوو لوړېدل او په دې توګه د نوي پانګې اچوني لپاره د مالي وسيلو برابرول دي. د ودې په دې پړاو کې سوداګري پراختيا مومي او د ترانسپورتي لارو د جوړېدو په نتيجه کې سيمه ايزه او دوديزه بڼه له لاسه ورکوي، د هېواد نورو سيمو ته هم پراختيا مومي او بلاخره نړېوالو بازارونو ته لار پيدا کوي. په دې توګه د وګړو عايدات او له هغو سره سم د پانګه اچوني لپاره وسيلې هم زياتېږي. د ودې په دې پړاو کې د ملي عايداتو له ۵ سلني برخي زياته اندازه د پانګې اچوني لپاره کارول کېږي.
- <u>د الوتني پيل (Take off)</u> – د ودې په دې پړاو کې ملي اقتصاد د پانګه اچوني او په کرهنه کې د تکنالوژۍ د کاروني له امله زياته وده کوي او د ملي اقتصاد پرمختګ چټکتيا مومي. د دې پړاو له ټولو ارزښتناک ټکی پر ځان د بسيا کېدو د موخې لپاره فعاليت دی. په بله وېنا په دې پړاو کې د وګړو د کار او فعاليت بنسټ دودونه نه بلکه اقتصادي پروسې دي. اقتصادي پرمختګ د خنډونو د له منځه تللو له امله، لکه ناوړه دودونه، خرافات او داسې نور، په يوه نورمال حالت بدلېږي. په کرهنه کې د کار د مؤلديت د لوړېدو له امله په دې سکتور کې د بوختو کسانو شمېر کمېږي، سيما او پانګه اچونه لا نوره هم زياتېږي.
- <u>د بلاغت خواته خوځېدل</u> – ټولني د ودې د پيل له پړاو څخه د بلاغت پړاو ته د رسېدلو لپاره د اقتصادي ودې او پرمختګ يوې اوږدې مودې ته اړتيا لري. د پرمختګ د دې پړاو يوه مشخصه په توليد کې د ټکنالوژۍ زياته اندازه کارول دي. ملي اقتصاد د پر ځان بسيا کېدو داسې يوه حالت ته رسېږي په کوم کې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

چي د رامنځته شوو شتمنیو په مرسته د لا زیاتي پانګي اچوني شونتیاوي رامنځته کیږي. د اقتصادي ودې له امله ملي اقتصاد په نړیواله کچه هم وده او پرمختګ کوي، زیات شمیر توکي چي پخوا له بهر څخه راواردېدل په هېواد کي د ننه تولیدیږي او په دې توګه د بهرنی سوداګرۍ بڼه او ترکیب هم بدلون مومي.

- کتلوي مصرف – د ودې په دې پړاو کي د ملي اقتصاد د پرمختګ په پروسه کي د سپماوو او د پانګه اچوني د لوړتیا له امله د خلکو د عایداتو او په دې توګه د مصرف په کچه کي هم زیاتوالی رامنځته کیږي. دوامداره مصرفي توکو او خدمتونو ته د وګړو غوښتنه زیاتیږي. په دې پړاو کي ټولنه د اقتصاد په بېلابېلو څانګو کي د کاروني لپاره په پوره اندازه وسیلې په لاس کي لري. ( اکادیمیا، ۲۰۱۵). په دې توګه هر اړخیز پرمختګ هم شونی کیږي.

**دوه ګونواله (Dualism) نظریې**

د دې نظریو له مخي په یوه ملي اقتصاد کي په عین وخت کي دوه سکتورونه وجود لري چي د ټولنیز جوړښت، د تولید د بنې او موخو له پلوه له یوه او بل څخه توپیر لري. له یوې خوا دوديز تولید دی چي په کمه کچه تولید کوي، د محصولاتو په تولید کي د کار برخه زیاته او د پانګي برخه کمه ده او د کار ویش پکي لږ دی. له بلي خوا په ملي اقتصاد کي مدرن سکتور جوود لري چي د پانګي ونډه پکي زیاته ده او د نړیوالو بازارونو لپاره تولید کوي. دا نظریه د لمړي ځل لپاره له نیدر لند څخه د یولیوس هېرمن بویک په نامه اقتصاد پوه له خوا طرح شوه.

د نوموړي له مخي دا دواړه سکتورونه له یوه او بل سره ډېرې کمې اړیکي لري. په مدرن سکتور کي په زیاتو حالاتو کي بهرنۍ پانګه اچونه ټاکونکی رول لوبوي او په دې توګه بې پراختیايي ګټه هم بهرنیو پرمختللو هېوادونو ته رسیږي. د دوه ګونواله تیورۍ له مخي د مدرن سکتور د ودې له امله د هېوادونو دوديز سکتور تر فشار لاندې راځي. کارګران له کرهني او له کلو څخه ښارونو ته ځي. د وروسته پاتي هېوادونو په کرهنه کي پټه بېکاري موجوده ده یعني په کروندو کي له اړتیا څخه زیات کسان بوخت دي، سره له دې هم دا پروسه په منځمهاله توګه په کرهنه کي د کارګرانو او د تولید د کمېدو لامل ګرځي. ښارونو ته د کلیوالي وګړو ګډوالي، په ښارونو کي د کارګرانو شمیر او یا عرضه او بېکاري زیاتیږي او د کارګرانو مزد کمیږي. د خلکو عایداتو د کمېدو له امله په کورني بازار کي د صنعتي تولیداتو لپاره غوښتنه هم کمیږي.

وروسته پاتي هېوادونه باید په خپلو پلانونو کي له دقت څخه کار واخلي تر څو په ملي اقتصاد کي سیمه ایز توپیرونه زیات نشي او له ټولو مهمه دا چي د اقتصاد د پرمختګ په لار کي د کرهنیزو محصولاتو پر تولید ناوړه اغېزې رامنځته نشي، ځکه چي په وروسته پاتي هېوادونو کي د کرهني سکتور په ځانګړي توګه د صنایعو د ودې لپاره د مرستندوی په توګه زېرمې رامنځته کوي. (ف. کونین، 1987).

**د ستراتېژۍ نظریې**

د دې نظریو له مخي د وروسته پاتي والي لامل اقتصادي شیطاني دایره ده. د دې حالت یوه بېلګه په وروسته پاتي هېوادونو کي د وګړو د عایداتو کمښت دی چي د کار د ټیټ مؤلدیت له امله رامنځته کیږي. د کار د مؤلدیت د ټیټي کچې یو لامل کمه پانګه ده چي د کمې سپما له امله رامنځته کیږي. او د سپما ټیټه کچه بیا هم د وګړو د ټیټو عایداتو له مخي رامنځته کیږي او په دې توګه دایره بیا خپل لومړی پړاو ته راګرځي.

د ستراتېژۍ د نظریو موخه د دې دایرې ماتول دي. د دې نظریو له مخي باید په ملي اقتصاد کي د خلکو د عایداتو د لوړولو، زیاتي سپما او په نتیجه کي د پانګي د رامنځته کولو لپاره هس او هاند وشي. خو دا نظریه د وروسته پاتي والي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د لاملونو د توضیح کولو په هکله څه نه وایي، دا چي ولي د خلکو عایدات کم، سپما کمه او له دې امله د پانګې اچونې لپاره وسیلې هم کمي دي.

د دې نظریو په چوکاټ کې یوه د متوازني ودې تیوري ده. دلته تر ټولو د مخه د بازار پر د ودې ټینګار کیږي او د بازارونو نشوالی د ودې او پرمختګ په وړاندې اصلي عامل بولي. د بازارونو وده تولید کوونکو ته دا فرصت او شونتیا رامنځته کوي چي خپل مازاد محصولات خرڅ کړي. په دې توګه د مازاد تولید لپاره لېوالتیا هم رامنځته کیږي. د بېلګې په توګه که بزګران د خپلو محصولاتو د خرڅلاو لپاره شونتیاوې ولري نو د خپل تولید د بنې د ښه کولو او په دې توګه د مازادو محصولاتو د تولید لپاره کومه انګیزه هم نلري او یوازې به د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره تولید کوي.

د دې نظریې له مخې باید په لومړي سر کې د مصرفي شیانو په سکتور کې پانګونه وشي. خو د دې نظریې یوه نیمګړتیا دا ده چې د پانګې رامنځته کول غواړي، اما په دې هکله چي پانګه په څه ډول رامنځته کیږي، څه نه وایي. یوه بله نیمګړتیا یي دا ده چي که د تولید په یوه برخه کې زیاته پانګه اچونه وشي نو په ملي اقتصاد کې دوه ګونوالی رامنځته کېدای شي. له بلې خوا باید دولت د دې توان ولري چي د متوازني پانګه اچونې لپاره کاري پلانونه طرح کړي.

زما په آند متوازنه وده او پرمختګ په هر حالت کې زیاته عملي بڼه نلري، د دې لپاره چي په ملي اقتصاد کې د سیمه ایزو، جغرافیایي، ټولنیزو او نورو عواملو له مخې د ودې او پرمختګ یوازې نسبي تعادل رامنځته کېدای شي. اوس مهال په پرمختللو هېوادونو کې هم د ودې او پرمختګ له مخې سیمه ایز توپیرونه شته دي، د بېلګې په توګه د ایتالیا د شمالي سیمو د دوې کچه د دې هېواد د سوېلي سیمو په پرتله ډېره لوړه ده.

په دې اړ یوه بله نظریه د نامتوازني ودې تیوري ده. د دې نظریې له مخې د ملي اقتصاد د ودې ستونزه د پانګې کمښت نه بلکه د تصدیو په چلولو کې د پیاوړتیا نشوالی دی. یا دا چي په ملي اقتصاد کې ځینې ډلي د متصدیانو د اقتصادي عمل په لار کې خنډ ګرځي او یا هم دا چي متصدیان یوازې خپلو ګټو ته ګوري. د دې نظریې له مخې باید د متوازني ودې په لور عمل ونشي بلکه هغه متصدیان چي په بېلابېلو اقتصادي څانګو کې پر مؤلد تولید بوخت دي تشویق شي او یا په هغو څانګو کې پانګونه وشي چي د مؤلدیت د لوړې کچې له مخې د نورو پانګونو لپاره مالي وسیلې رامنځته کوي، لکه په صنایعو او د وارداتو لپاره د بدیلو توکو د تولید په سکتور کې.

**د تبادلې د نسبت نظریه**

د تبادلې نسبت په یوه ملي اقتصاد کې د صادراتو او وارداتو د بیې تر منځ اړیکه یا نسبت دی. په بل عبارت د یوه واحد وارداتي محصول لپاره باید څو واحده صادراتي توکي تبادله شي. که د واراداتو بیه د صادراتو د بیې په پرتله لوړه شي د تبادلې نسبت خرابیږي، د دې لپاره چي په دې حالت کې باید د وارداتو د یوه واحد د ترلاسه کولو لپاره په نسبي توګه زیاته اندازه صادراتي توکي تبادله شي.

په نړیواله سوداګرۍ کې پرمختللي هېوادونه صنعتي تولیدات او وروسته پاتي هېوادونه اولیه توکي لکه خام مواد صادروي. د خامو موادو لپاره د عایداتو له مخې د غوښتني (تقاضا) ارتجاعیت ډېر کم دی. کله چي نړیوال اقتصاد وده کوي او د هېوادونو عایدات زیاتیږي د وروسته پاتي هېوادونو محصولاتو ته غوښتنه په هماغه اندازه نه زیاتیږي. د صناعتي توکو لپاره د عایداتو له مخې غوښتنه ارتجاعي ده. یعني که د یوه هېواد د وګړو عایدات زیات شي نو دې محصولاتو ته غوښتنه هم زیاتیږي. په دې توګه په وروسته پاتي هېوادونو کې د عایداتو زیاتېدل یوازې صناعتي توکو ته غوښتنه زیاتوي او په دې توګه په دغوهېوادونو کې د عایداتو د زیاتېدو ګټه پرمختللي هېوادونه تر لاسه کوي. یوه بله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ستونزه د اولیه موادو په نړیوال بازار کې د وروسته پاتې هېوادونو تر منځ سیالي ده ، چې د ټیټې بیې لامل ګرځي. اولیه توکي له یوې خوا په آسانه توګه له نورو ورته توکو سره د تعویض وړتیا لري او له بلې خوا زیات شمېر پرمختللونکي هېوادونه اولیه توکي صادروي. د دې توکو تنوع کمه ده او له همدې امله یې د بیې له مخې غوښتنه هم زیاته ارتجاعي ده. په بل عبارت وروسته پاتې هېوادونه په نړیوالو بازارونو کې د خپلو خامو موادو د بیې د لوړولو ډېرې کمې شونتیاوې لري. برعکس د پرمختللو هېوادونو د صنعتي توکو تنوع زیاته ده او له نورو توکو سره په آسانۍ د تعویض شونتیا نلري.

د کار د مؤلدیت زیاتېدل هم په وروسته پاتې او پرمختللو هېوادونو کې متفاوتې اغېزې رامنځته کوي. په وروسته پاتې هېوادونو کې د مؤلدیت د لوړېدو له مخې د اولیه توکو تولید او هم عرضه زیاتېږي. خو د بیو له مخې د تقاضا د ارتجاعیت د زیاتوالي له امله د دې توکو بیه ټیټیږي او په نتیجه کې د مؤلدیت ګټې په غېرممستقیمه توګه پرمختللو هېوادونو ته انتقال مومي او د وروسته پاتې هېوادونو د تبادلې نسبت ورځ په ورځ خرابېږي. (ی. تېلتون، ۹-۱۱، ۲۰۱۲). د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ د کنفرانس د مالوماتو له مخې په ۲۰۱۳ کال کې د ټر ټولو وروسته پاتې هېوادونو د سوداګرۍ د بېلانس کسر د ۲۰۱۲ کال په پرتله ٪۲۹،۱ زیات شو، په داسې حال کې چې د افریقايي تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو د سوداګرۍ د بېلانس کسر منفي او د آسیایي هېوادونو مثبت و. دا حالت د نورو عواملو تر څنګه د دې لامل هم وګرځېد چې د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو د کورنیو ناخالصو محصولاتو وده په ۲۰۰۸ کال کې ۶،۸ سلنه وه او په ۲۰۱۳ کال کې ۶،۰ ٪ ته راټیټه شوه. (لومړی فصل، ۳، ۵-۶، ۲۰۱۴).

**د امپریالېزم نظریه**

زما په آند پاسنۍ یادې شوې نظریې دې پوښتنې ته ځواب نه لري چې ولې د نن ورځې وروسته پاتې هېوادونو له لوېدیځو هېوادونو سره په یوه وخت کې وده ونکړه؟ دا نظریې معلول له علت سره مغالطه کوي. خو سره له دې هم باېد د دې نظریو اهمیت د وروسته پاتې ټولنو د اقتصادي پرمختګ لپاره په پروسو کې هېر نکړو.

د امپریالیزم نظریه یوازنۍ نظریه ده چې د وروسته پاتې هېوادونو د نن ورځې اقتصادي حالت لاملونه په ګوته کوي. د دې نظریې له مخې د وروسته پاتې والي اصلي لامل په تېرو سلیزو کې د لویدیزو هېوادونو استعماري سیاست و. د لوېدیځو دریانوردانو له خوا د امریکا لویې وچې او هند ته د سمندري لارو کشفول د دې لامل وګرځېدل، چې دا هېوادونه په نسبي توګه په یوه لنډه موده کې زیاته وده وکړي. په داسې حال کې چې دا خبره د هغو هېوادونو لپاره چې د سوداګرۍ د لارو، لکه د وریښمنو لار، په امتداد کې پراته وو یوه لویه اقتصادي فاجعه وه. له بلې خوا له هغې وروسته چې هسپانیه د مرکزي او سوېلي امریکا پر زیاتو سیمو حاکمه شوه، نو دا هېوادونه یې په بې ساري توګه لوټ او استثمار کړل او د هغوی پرمختللي فرهنګونه یې وبجاړ او له منځه ویوړل. د هېوادونو استعمار یوازې د امریکي لویې وچې ته محدود پاتې نشو، بلکه ډېر ژر د آسیا او افریقا نور هېوادونه هم د دې سیاست په منګولو کې ولوېدل. د امریکې د لویې وچې د کشف په لومړیو کلونو کې په سلهاوو زره افریقایان په زور او په ډېره ناوړه وجه دې لوېې وچې ته د مریانو په توګه یوړل شول.

استعماري هېوادونو له خپلو مستعمرو څخه د انسانانو د غلا تر څنګه د خپل اقتصاد د پرمختګ لپاره خام مواد هم وړل او له همدې کبله په مستعمرو کې د ملي اقتصاد هغو برخو وده وکړه چې د استعماري هېوادونو د اقتصادي ګټو او نظامي موخو سره یې مطابقت درلود. د استعمار د کلونو په ترڅ کې د مستعمرو د کورني پرمختګ لپاره لازم خام مواد او بشري ځواکونه د استعمارګرو له خوا لوټ او اقتصادي سیستمونه یې وبجاړ شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

استعماري هېوادونو د نژاد پرستی او د مستعمرو د فرهنګ په وړاندي د تبیض له مخي هم د دي هېوادونو د ټولنيز او سياسي پرمختګ مخه ونیوله، خلک بېسواده پاتي شول، مهارتونو یې وده ونکړه او د بشري قواوو له مخي هم د ودي په یوه ټیټه کچه وساتل شول. د تعلیم او تربیې او روغتیایي خدمتونو په ساحاتو کي د لګښتونو موجوده کچه هم ډېره ټیټه وه.

دا سمه ده چي استعماري هېوادونو په خپلو مستعمرو کي تر یوه حده پوري اقتصادي بنسټونه رامنځته کړل، خو د دي ګامونو يوازنی موخه د استعماري هېوادونو اقتصادي او نظامي ګټي وې. د دي تر څنګه یې د هغو صنایعو له ودي څخه هم مخنیوی وکړ چي د دوی د محصولاتو د سیال په توګه ورته کتل کېدل. پر دي برسېره یې له دې هېوادونو څخه لوړ مالیات ترلاسه کول او په نتیجه کي په هېواد کي د ننه د سپما او پانګه اچوني لپاره وسیلي یا ډېري کمي شولي او یا هم په کلي توګه له منځه لاړې. د دا ډول مالیاتو یوه بېلګه په برتانوي هند کي د (Permanen Settlement) د مالیاتو قانون و. د دي قانون له امله په برتانوي هند کي زيات شمېر بزګرانو خپلي ځمکي له لاسه ورکړي او بېوزلي شول.

**پایله**

په اقتصادي بحثونو کي د وروسته پاتي هېوادونو د عمومي پرمختګ لپاره تراوسه کومه د پام وړ نظریه نده طرح شوې. د هغو نظریو له مخي چي اشاره مو ورته وکړه، یوازې د ملي اقتصاد د قسمي برخو د پرمختګ او ودې لپاره د لارو چارو وړاندیزونه شوي دي. تر نن ورځي پورې هم د وروسته پاتي هېوادونو د ودې په هکله په نظریو کي په لمړي سر کي د ځینو اساسي سکتورونو پر ودې او پرمختګ ټینګار کېږي. په ځانګړې توګه د هغو سکتورونو ودې او پرمختګ ته ترجیح ورکول کېږي چي د کار د مؤلدیت کچه یې لوړه ده او په دې توګه د ملي اقتصاد د نورو سکتورو د ودې لپاره هم انګېزې او شرايط رامنځته کولای شي. دا وده د محصولاتو د تنوع لامل هم ګرځېدلای شي چي د هېوادونو په بهرنی سوداګری کي یو ټاکونکی رول لري.

د پرمختګ د یوې عمومي نظریې په وړاندې یوه ستونزه د وروسته پاتي هېوادونو بېلابېل اقتصادي، سياسي او ټولنيز شرايط دي. سره له دې چي دا هېوادونه ځيني ګډې مشخصې لري، خو د بېلابېلو اقتصادي، ټولنيزو او سياسي برخو په وده او پرمختګ کي زيات توپيرونه هم سره لري. نن ورځ د افريقا تر ټولو وروسته پاتي هېوادونه د آسيا له تر ټولو وروسته پاتي هېوادونو سره په عمومي توګه نشو پرتله کولای.

همدا بېلابېل عاملونه لکه جغرافيايي موقعيت او حالت، اقليمي شرايط، طبيعي زېرمې او له ټولو مهم د سياسي مضبوط سيستم نشتوالی د وروسته پاتي هېوادونو د اقتصادي سياسي او ټولنيزو ستونزو لامل هم بللای شو. په وروسته پاتي هېوادونو کي د کورنيو شخړو او جګړو له امله هر کال زياتي مالي، اقتصادي او بشري زېرمې له لاسه ځي. حکومتونه يا د ملي اقتصاد او د ټولني د پراختيا لپاره د پلانونو د طرح کولو وړتيا نلري او يا د اداري فساد له مخي يوازې خپلو شخصي ګټو ته ګوري او د ټولني او ملي اقتصاد پرمختګ، ودې او پياوړتيا ته لېواليا موجوده نه ده.

نړيوال اقتصاد به هم، که بنسټيز بدلونونه پکي رانشي، د وروسته پاتي هېوادونو د پر مختګ په وړاندي يو لوی خنډ پاتي شي. د اقتصاد نړيوال کېدو له يوې خوا د نړۍ د هېوادونو تر منځ د اقتصادي او سياسي اړيکو د ټينګولو لپاره مساعد شرايط رامنځته کړي دي، خو په عين وخت کي یې په نړيواله سوداګری کي د وروسته پاتي هېوادونو د برابر او عادلانه ګډون لپاره ستونزې هم زياتي کړي دي. په نړيوالو بازارونو کي د پرمختللو هېوادونو تر منځ اقتصادي اتحادونو او تړونونو په دې بازارونو کي د وروسته پاتي هېوادونو د معاملې کولو وړتيا کمه کړې ده. وروسته پاتي هېوادونه په کورنيو بازارونو کي هم د پرمختللو هېوادونو د توکو په وړاندي سيالي نشي کولای چي د کار د لوړ مؤلديت له امله يې د توليد لګښت کم دی، په نړيوالو بازارونو کي په ارزانه بيه عرضه کېږي او په آسانی سره د وروسته پاتي هېوادونو د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ

محصولاتو بدیل ګرځېدلای شي. په وروسته پاتې هېوادونو کې د بهرنيو هېوادونو د محصولاتو د نسبي ټيټې بيې له امله کورنيو توليداتو ته غوښتنه کمېږي او په دې توګه د دې محصولاتو واردول په زياتو حالاتو کې د ورو تصديو د ويجاړتيا او د له منځه تلو لامل ګرځي.

په نړيوالو بازارونو کې بايد د وروسته پاتې هېوادونو په موقف کې سمون رامنځته شي. د بهرنۍ سوداګرۍ په بيلانس کې کسر په ملي اقتصاد کې د پانګه اچونې لپاره مالي وسېلې تر ډېره حده محدودوي. که د پرمختللو او وروسته پاتې هېوادونو تر منځ د نړيوالې سوداګرۍ په اړيکو جدي بدلون رامنځته نشي، نه نو بېوزلې هېوادونه به تل بې وزلې او په اقتصادي شيطاني دايره کې راګير پاتې شي.

د وروسته پاتې هېوادونو يوه بله جدي ستونزه د زياتې مودې لپاره پر بهرنيو مرستو تکيه کول دي. دا حالت له تيرو څوارلسو کلونو راهيسې په افغانستان کې هم موجود دی. له دې امله ځينې اقتصاد پوهان په دې آند دي چې له يوه معين حد څخه زياتې بهرنۍ پرمختيايي مرستې د بېوزلو هېوادونو پرمختګ او ودې ته تاوان رسوي. ځکه چې له هغوی څخه د خپل ژوند د شرايطو په ښه کولو کې د هس او هاند انګيزه سلبوي. خو ځينې نور په دې آند دي چې دا هېوادونه به له بهرنيو پرمختيايي مرستو پرته هېڅ وخت ونشي کولای چې خپله بېوزلي له منځه يوسي. زما په آند بايد د دواړو بديلونو تر منځ يو سالم تعادل موجود وي.

**اخځليک:**


۱- تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو لست.، نېشنز آن لاين، د نړۍ هېوادونه، ۲۰۱۵، (List of Least Developed Countries)
(په ليکه)، دلته يې وګورئ:
http://www.nationsonline.org/oneworld/least_developed_countries.htm

(د لاسرسي نيټه: ۲۲/۶/۲۰۱۵)

۲- د نړيوالې بېوزلۍ په هکله يوولس حقيقتونه، ۲۰۱۵، (11 Facts About Global Poverty)
(په ليکه)، دلته يې وګورئ:
https://www.dosomething.org/facts/11-facts-about-global-poverty

(د لاسرسي نيټه: ۲۲/۶/۲۰۱۵)

۳- د فدرالي آلمان د اقتصادي همکاريو او پرمختګ وزارت، ولې هېوادونه پور اخلي؟، ۲۰۱۵، (Warum verschulden sich arme Länder)
(په ليکه)، دلته يې وګورئ:
http://www.bmz.de/de/was_wir_machen/themen/entwicklungsfinanzierung/entschuldung/hintergrund/ursachen.html

(د لاسرسي نيټه: ۲۲/۶/۲۰۱۵)

۴- د تر ټولو بېوزلو هېوادونو لپاره د پور د آسانتياوو منطق، د پيسو نړيوال صندوق، ۲۰۰۰،
(The Logic of Debt Relief for the Poorest Countries )
(په ليکه)، دلته يې وګورئ:
https://www.imf.org/external/np/exr/ib/2000/deu/092300g.htm
(د لاسرسي نيټه: ۲۲/۶/۲۰۱۵)

۵- فريديوف کونين، د وروسته پاتې والي لاملونه او د پرمختګ لپاره طرحې، ۱۹۸۶-۱۹۸۷،
(CAUSES OF UNDERDEVELOPMENT AND CONCEPTS FOR DEVELOPMENT)
(په ليکه)، دلته يې وګورئ:




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

http://www2.fiu.edu/~ereserve/010029280-1.pdf

(د لاسرسي نیټه: ۲۴/۶/۲۰۱۵)

۶- جان، ی، ټېلټون، د تبادلې د نسبت بحث او د اولیه محصولاتو د مؤلدینو لپاره د پالیسی پایلې، د کولورادو د معادنو ښوونځی، ۲۰۱۲،
(The Terms Of Trade Debate and the Policy Implications for Primary Product Producers)

(په لیکه)، دلته یې وګورئ:

http://econbus.mines.edu/working-papers/wp201211.pdf

(د لاسرسي نیټه: ۲۷/۶/۲۰۱۵)

۷- د ټر ټولو وروسته پاتې هېوادونو ریوټ ۲۰۱۴، لومړی فصل، د ټر ټولو وروسته پاتې هېوادونو په هکله وروستي تمایلات او راتلونکي ته کتنه، د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ کنفرانس، ۲۰۱۴، (The Least Developed Countreis Report 2014)

(په لیکه)، دلته یې وګورئ:

http://unctad.org/en/PublicationsLibrary/ldc2014_en.pdf

(د لاسرسي نیټه: ۲۷/۶/۲۰۱۵)

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ